ډسمبر 27، 2023

درنو والدینو/سرپرستانو/د زده کړې په برخه کې پرېکړه کوونکو:

تاسو دغه لیک ځکه ترلاسه کوئ چې ستاسو ماشوم د ( د وبا په موده کې) د 2020 کال د مارچ 13 او د 2022 کال د جون 16 ترمنځ د پېټس برګ عامه ښوونځیو ته تللی دی او ورپسې له PPS څخه فارغ شوی او له ښوونیزې حوزې څخه یې نوم حذف شوی دی. PPS پوهېږي چې د ځینو زده کوونکو لپاره د وبا د مودې په جریان کې، له لرې او مجازي زده کړې او/یا د کوویډ-19 اړونده نور خنډونه ښایي د معلولیت لرونکو زده کوونکو لپاره د زده کړې د له لاسه ورکولو لامل شوي وي. د پېټس برګ عامه ښوونځي د کوویډ د غرامت د خدماتو (CCS) لپاره پلان لري ترڅو پر معلولیت لرونکو زده کوونکو باندې (په IEP یا 504 پلان لرونکو زده کوونکو) چې پخواني زده کوونکي کې هم پکې شاملېږي، د وبا اغېزو ته رسدګي وکړي.

د راتلونکو څو میاشتو په تېرېدو سره به موږ په بالقوه ډول په شرایطو برابرو د ټولو هغو زده کوونکو لپاره غونډې برابرې کړو چې له ښوونیزې حوزې څخه فارغ شوي دي یا له یادې حوزې تللي دي. د دغو غونډو موخه د وبا په موده کې د ټولو له لاسه ورکړو درسونو په ګوته کول دي او دا چې مشخصو له لاسه ورکړو درسونو ته د رسیدګۍ په موخه د اړتیا وړ CCS ډول او اندازه په ګوته شي.

په دغه پروسه کې لومړنی ګام ستاسو د ماشوم د IEP یا 504 ټیم یا د PPS د بل استازي (استازو) لپاره دی ترڅو له تاسو سره وګوري او په دې اړه چې آیا ستاسو ماشوم د CCS خدماتو لپاره تر کومې کچې په شرایطو برابر دی کنه، انفرادي تشخیصات په ګوته کړي. که چېرې مناسبه وي، ستاسو زده کوونکی ښایي د تعینولو په دغو غونډو کې د خپل نظر د وړاندې کولو په موخه برخه واخلي. ضمیمه شوی یو چیک لېست دی چې له تاسو سره مرسته کوي تر څو د وبا دورې پر مهال د خپل ماشوم د زده کړې په اړه فکر وکړئ او په انفرادي ډول د تعینولو د غونډې لپاره چمتو شئ. دا په ګوته شوې چې ستاسو ماشوم د CCS لپاره په شرایطو برابر دی او د وبا په جریان کې د مختل شوې زده کړې له امله به اړونده ټیم خدمات او د اړتیا وړ اقداماتو ساعتونه په ګوته کړي. **مهرباني وکړئ په یاد ولرئ د دې ګزینې چې څنګه د خپل ماشوم پاره غوره CCS چمتو کړئ ښایي اضافي بحث یا غونډې ته اړتیا ولري. ځینې پخواني زده کوونکي ښایي د ښوونیزې حوزې له خوا د چمتو کېدونکو خدماتو له بدیل څخه ګټه پورته کړي. د بېلګې په توګه، هغه ځایونه چې هلته ښوونیزه حوزه د اړتیا وړ خدمات نه وړاندې کوي، هغه ځایونه چې هلته د حوزې له خوا وړاندې کېدونکو خدماتو ته نږدې زده کوونکي نه اوسېږي یا هغه ځایونه چې هلته امکان نه لري PPS داسې خدمات وړاندې کړي چې پخواني زده کوونکي اړتیا ورته لري.**

د څو راتلونکو اونیو په تېرېدو سره به له تاسو سره اړیکه ونیول شي او د خپل ماشوم له وروستي ښوونځي څخه چې ورغلی دی راتلونکي ګامونه ترلاسه کړئ. که چېرې تاسو له ښوونځي څخه د 2024 کال د فبرورۍ میاشتې له 1 نېټې څخه وړاندې خبرتیا ترلاسه نکړه، مهرباني وکړئ اړیکه ونیسئ. د CCS 2.0 په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره، په مهربانۍ سره .ته مراجعه وکړئ www.pghschools.org/CCS

په درنښت،